لاتویا

# زما شخصي معلومات ولې EURODAC ته لیږدول شوې دي؟

س ډول

**هغه کسان چې د تولنې د بیا مېشتېدو او بشرپاله منلو د چوکاټ له مخې د داخلېدو د پروسې لپاره ثبت شوي دي**



PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

تاسې د اروپايي ټولنې (EU) یوه غړي دولت ته د بیا مېشتېدو یا بشرپاله منلو لپاره په پام کې نیول شوي یاست.

په دغه بروشور کې د معلوماتو په اړه کوم چې د چارواکو له خوا به وساتل شي او دا چې د څومره وخت لپاره به وساتل شي، زيات معلومات شته.

## بیا مېشتېدنه او بشرپاله منل څه شی ده؟



تاسې د اروپايي ټولنې یوه غړي دولت ته د بیا مېشتېدو یا بشرپاله منلو لپاره په پام کې نیول شوي یاست. په دې معنی چې ستاسې قضیه د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري (UNHCR) یا بل اړوند نهاد له خوا ارزول شوې ده.

د اروپايي اتحادیې له غړو هېوادونو څخه یو به اوس پرېکړه وکړي چې ایا دوی له تاسو سره موافق دي چې تاسو په هغه هېواد کې ژوند وکړې او تاسو ته نړیوال خوندیتوب یا د بشري خوندیتوب وضعیت درکړي.

## ولې باید زه خپل د ګوتو نښې او انځور ورکړم؟

د دې هېواد چارواکي به ستاسو د ګوتو نښې او انځور واخلي.
دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به یو ځای، د Eurodac ډېټابیز ته واستول شي.

Eurodac هغه ځانګړي کسان چې د اروپايي ټولنې+ هېوادونو اتباع نه دي، له دوی سره د دوی ځانګړي د ګوتو نښې او انځورونه نښلوي.

دا ډېټابیز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کېږي، چې کولای شي ستاسو معلومات پروسس او ترلاسه کړي.

دوی به دا وګوري:

- ایا تاسو مخکې له دې په کوم اروپايي ټولنې+ هېواد کې د خوندیتوب معتبر وضعیت لرئ
- ایا تاسو مخکې له دې د بیا مېشتېدو یا د بشرپاله منلو له مخې د کوم اروپايي ټولنې غړي هېواد له خوا منل شوی یاست
- ایا ستاسو غوښتنه په تېرو 3 کلونو کې د امنیتي دلایلو له مخې د کوم اروپايي ټولنې غړي هېواد له خوا رد شوې ده
- که چېرې تاسې په تېرو 3 کلونو کې رضایت نه وي ورکړی یا دې رضایت بېرته اخیستی وي چې د اروپايي تولنې په کوم غړي هېواد کې ومنل شئ.

د اروپايي ټولنې هغه غړی هېواد چې ستاسو معلومات ثبتوي، لومړی به یوازې دا وګوري چې ایا پورته کومه موضوع پر تاسو تطبیقېږي. په دې پړاو کې، ستاسو معلومات به په Eurodac کې ثبت نشي.

**تاسې اوس په لاتویا کې یاست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ یو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطریش، بلجیم، بلغاریه، کروشیا، قبرس، چیک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، ایټالیا، لاټویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ایرلینډ جمهوریت، رومانیا، سلواکیا، سلونیا، هسپانیه، سویډن او

4 نور هېوادونه: ایسلېنډ، لیچتنستین، ناروې، سویټزرلنډ.

## په EURODAC کې کوم معلومات زېرمه کېږي؟



لاندې معلومات له پخوا نه په کې زېرمه دي:

- ستاسې د ګوتو نښې
- ستاسې د مخ انځور
- ټول هغه نومونه چې تاسې اوس یا پخوا کارولې دي
- ستاسې د زوکړې نېټه
- ستاسې د زوکړې ځای
- ستاسې ملیت یا ملیتونه
- ستاسې جنسیت
- ستاسې د هویت یا د سفر د اسنادو کاپي کوم چې تاسې کارولې دي، او که چېرته موجود وي نو د هغوی د اعتبار په اړه معلومات هم په کې شامل دي
- د هغه افسر کارن پېژند (User ID) چې ستاسو د ګوتو نښې او عکس یې اخیستی، او هغه نېټې چې ستاسو معلومات اخیستل شوي او لېږل شوي دي
- هغه هېواد کوم چې تاسو پکې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې ده
- د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیک نېټه.

لاندې معلومات به، که اړتیا وي، په Eurodac کې ثبت شي:

- هغه هېواد چې ستاسو د غوښتنلیک ارزونه کوي
- که تاسو ځای پر ځای شوی یاست، نو د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد چې تاسو په کې ځای پر ځای شوی یاست
- که ستاسو غوښتنلیک رد شوی وي او تاسو د اروپايي ټولنې+ هېوادونو په سیمه کې د پاتې کېدو حق ونه لرئ
- که ستاسو غوښتنلیک د سرحدي پروسې له مخې ارزول شوی وي او رد شوی وي، یا ستاسو غوښتنلیک بېرته اخیستل شوی ګڼل شوی وي
- د هغو ویزو په اړه معلومات چې تاسو ته د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد له خوا صادر شوي وي
- د هغو وختونو په اړه معلومات چې تاسو د اروپايي ټولنې+ هېوادونو له سیمې څخه وتلی یاست
- په دې اړه معلومات چې ایا تاسو خپل هېواد ته د داوطلبانه ستنېدو وړاندیز منلی دی که نه.

تاسو حق لرئ چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح یې کړئ، او غوښتنه وکړئ چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي. تاسو کولای شئ د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړیکه ونیسئ. د معلوماتو کنټرولر د تماس تفصیلات په بروشور کې موندل کېدای شي چې عنوان یې دی: **«ایا په Eurodac کې کوم نور معلومات زېرمه شوي دي»**.

## زما شخصي معلومات به په Eurodac کې تر کومې مودې پورې ثبت وي؟



دا په پرېکړې پورې اړه لري، خو ممکن یو له لاندې څخه وي:

- 5 کاله، که ثبت کوونکی هېواد تاسو ته د منلو اجازه درکړې یا
- 3 کاله، که ثبت کوونکی هېواد تاسو ته د امنیتي دلایلو له مخې د منلو اجازه در نه کړې یا
- 3 کاله، که تاسو په خپله پرېکړه وکړې وي چې نور نه غواړې ومنل شې، یا چارواکي دا باور ولري چې تاسو همکاري و نه کړه.

که تاسو د دې مودې تر ختمېدو مخکې تابعیت ترلاسه کړې، ستاسو معلومات به حذف شي. که ستاسو معلومات حذف شي، دا به په هغه هېواد کې چې تاسو تابعیت ترلاسه کړی، ستاسو موقف ته زیان ونه رسوي.

دا بروشور یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. نه د اروپایي اتحادیې د پناه غوښتنې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د دې ادارې په استازیتوب عمل کوي، په دې یادښت کې د شاملو معلوماتو د احتمالي کارونې مسؤل نه ګڼل کېږي.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپایي اتحادیې اداره، 2025